


# د میرزا قهر

**لیکونکي:**

داکتر گرایم مک کوین
ماری- جو لند
داکتر جوانا سنتا باربارا
کیون آرتر لند

دیزاین: یار محمد تره کي
*انځورکونکۍ : ل. غفوری*

***ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل***

موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کیسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ویب سایټونو کې شته دئ:**

[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)

**او**

[www.htac.org](http://www.htac.org)

ددې کیسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دئ.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

## نهمه کيسه

دوهم چاپ

# د ميرزا قهر

ليکونکي:

داکترگرايم مک کوين
ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
کيون آرترلند

دیزاین:  يار محمد تره کي

انځورکونکۍ :  ل. غفوری

اصلاح کونکي :  کيون آرترلند  او  ماري – جو لند

د پروژی تنظيمونکي: ډاکترصديق ويرا  او ډاکتر ګرايم مک کوين

ژباړونکي :  ثريا سديد او محمد يوسف جبارخيل -  موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولي دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هاميلتون ، آنتريو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

## په کیسه کې ښکیل کسان :

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراو د یونس کاکاځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي او هغه یي لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت ورباندې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یي کار کولو،یومایېن پرې والوت او هغه یي ووژلو اوپلار یي ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه . **دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذاروركړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یي بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

د **بی بې جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانګړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچود پخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلو غم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لاره پیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلي لپاره دادېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يې دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې وو . پلاريې داسې يو سړی ووچې ډېرې کيسې يې زده وي . دجميلي ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی وو . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې،** احمد او جميله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونده وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطرې چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي.

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکي واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور وو ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبدالله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ينې په کېسه کې** کله چې د جميلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله وليدل چې جميلې له کوره څخه خپله پيشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جميلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته يې

ور غورزوي. جميله په ورور باندې په قهر ده او داسې ځان ښيي چې ګواکې ورورنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره يوه لاره ومومي.

**دميرزا دقهر په کيسه کې** ميرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکاردده دکوچنيانو ، جميلي اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دميرزا عصبي کيدل دهغه په کوچنيانو ناوړه اغېزپرېږدي اودادې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رويه اختيارکړي . احمد چې پټ شوی وودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامئ په هکله غږېدل چې ميرزاته دده دپښې دغوځېدو له کبله پېداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمينه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ يوځل بياآړيکې سمې شي .

**ددر ملنی عنصرونه :**

**تصويرونه او روغتيا بخښونکی نخښی:**

په غيږ کې نيول ، ورکړه ، شوخی او ټوکې

**د سوله ايزو کړو وړو لپاره لاربښوونی :**

غوږ نيول ، له نورو څخه ملاتړ ، مرسته ، ګټوروالی

**ستونزې :**

خپل قهر په نور کښينول ، په کوچنيانو باندی د قهر اغيز ، ويره ، ځانته او بل ته د احترام نشتوالی ، شرم

**ددرملني لارې :**

د قهر په هکله خبرې کول ، د فرضيو تشريح او په ناسم پوهاوی باندې رڼا اچول ، په غيږ کې نيول ، له کوچنيانو سره په ستونزو خبری کول ، نوروته د تحفی برابرول

# د میرزا قهر

جمیله او احمد له خپل پلار څخه ویریدل . هغه مخکې یوه مهربانه او آرام سړئ وو ، خو وروسته له هغه چې ماین

پرې والوت او یوه پښه ئې له لاسه ورکړه د هغه په رویه کې بدلون راغی اوس هغه دې ته اړشو چې د اوړو له چکسو څخه ګټه واخلي او دا چې نور ده نشو کولئ د پخوا په څیر کار وکړي ډیر زویده له هغې ورځې راهیسی چې د میرزا کورنی له خپل کلي څخه راوتلي وه او د بی ځایه شوی کورنیو په کیمپ کې ئې هستوګنه کوله ، میرزا په بشپړه توګه وزګار و . هغه یوائی هغه جومات ته چې د یو موقت وخت لپاره جوړ شوی وو ورتللو او لمونځ ئې کاوو او نوروخت به په کور کې ناست وو . ده به ډیرئ وخت په حلیمې چې د کوچنیانو موروه او همدارنګه د کوچنیانو په ورځنی کارونو چې هغوی به په کېمپ کې تر سره کول نیوکې کولې کله به ئې چې په احمد چیغه وکړه ، احمد به داسی فکرکولو چې داددہ ګناه ده او دئ په ربنتیا یو بد هلک دئ .

ډیرو وړو او کوچنیو شیانو به د کوچنیانو پلار عصباني کولو . هغه به په ماشومانو چیغی وهلې . خپل چکسونه به ئې په مځکه او یا میز وهل . داکارونه ئې ډیر ویرونکي وو.



د نن ورځ ئې هم د پخوا ورځو په شان وو . يوه ورځ احمد په کړکۍ کې ناست وو ، چيغو دده په تن کې د وحشت ، قهر ، غم ، تشويش او ډار احساسات را پارول . هغه به هڅول کېده چې يو کار وکړي خو هيڅ ئې له لاسه پوره نه وو.  جميله ئې څنګ ته راغله وئې ويل :





" احمد : حمام ته راشه مور راته وویل چې ودې لمبوم . "

احمد وویل :" نه، له دې ځایه څخه ولاړه شه . "

جمیلې غږ وکړ : " زما نازولیه وروره ، مورمې راته وویل چې تا ووینځم . زه باید داکار وکړم . راځه! ډیر وخت نه نیسی .

احمد چیغه کړه او د جامو بکس ئې په لغته ووهه : ځه ، ځه ، ځه له دې ځایه ځخه ولاړه شه ای زما احمقې خورې! هغه له جمیلې څخه وتښتید.

جمیلې منډه کړه چې راوئې نیسی . احمد هغه ووهله او له کور څخه د باندې ئې منډه کړه ، کله چې جمیلې هغه له کوره بهر لټولو ، احمد بیرته کوټې ته راغی او دهغه بکس شاه ته چې د کوټې په یو ګوټ کې ایښودل شوی وو ځان پټ کړ .

بي بي جان او پلار ئې دننه راغلل . احمد تراوسه هم دیو موړک په څیر ځان غلئ نیولی وو .





بي بي جان وويل : ″ ميرزا ! ته مې ددې لپاره راوغوښتلې چې زه درسره خاصې خبرې لرم. ″ ميرزاوويل :″ څه خبره ده مورې ! ″



بي بي جان وويل :" زه پوهيږم چې ته ډېر زوريږې ، کاشکې ماکولی شول چه ته اوټول فاميل مې دې رنځ او کړاو څخه ويستلی وای . ځنی وختونه تا ګورم چې ته دې په غمونو غلبه کوې او کله بيا بيرته په هغو کې ډوبيږي او خپل زړه په حليمې او کوچنيانو تشوې او د هغوی رنځ او کړاو لا ورپسې ډيروې . زه پوهيږم چې کوچنيان له تا څخه ډاريږي او هغوی کوښښ کوې چې خپله لاره درڅخه واړوي .

میرزا وویل : " اوه مورې ، ما فکر کاو چې دا کارونه زما د بی احترامۍ لپاره کوي ځکه چې زه یوه پښه لرم ."

بي بي جان وویل : " میرزا ، درناوی کول دي پورې اړه نه لري چې ته د څو پښو لرونکی یې . فکر کوم هغوی هغه پلار پسی دق شوې دي چې پخوائې درلود ... هغه څوک چې تراوسه پورې ددغه قهر او غضب لاندی شتون لري ."

میرزا وویل : " مورې ، تاسو دانشی تصور کولی چې زه د کوم لامل له مخې په قهرېږم . زه له ځان نه پوښتنه کوم چې ولې معیوب شوم ؟ ولې زما کوچنیان دا کړاو تیر کړې څرنګه کولی شم چې زه د هغوی ساتنه او سرپرستي وکړم ؟ "

بي بي جان په ډیر دقت د میرزا سترګوته وکتل او وئې ویل :" ته داسې فکر کوې چې زه دا تصور نشم کولی ؟ ستا پوښتنی ته ځواب نه لرم څوک پوهیږي چې څه به کیږي . یا خدای پاک ولی برخه لیک داسی ټاکلی دی ؟ مونږ باید د خدای (ج) ارادې ته تسلیم شو ، هغه ومنو او د هغې په وسیله ژوند مخ ته یوسو . مونږ به د کوچنیانو د ساتنی او سرپرستۍ لپاره لار پیداکړوکه غواړې چې کوچنیانو سره مرسته وکړې لومړئ ته باید له قهر او عصبانیت څخه لاس واخلې. مونږ باید پلار ته شفا ورکړو.

میرزا مورته وروکتل او په خندا ئې وویل:" څرنګه کېدای شي یوه داسی هوښیاره مور داسی یو نادان ځوی ولري.؟"

بي بې جان هغه په غیږ کې ونیو او وئې ویل:" میرزا ، میرزا ته یوډیر ښه اولاد ئې او داسې فکر کوم ډیر ژربه ډاډترلاسه کړې چې تراوسه لاهم په نړۍ کې خوښي ، خوند او خوشحالی شته ده .

احمد د بکسو شاه ته ډیر تنګ شوی و کله به چې وخوځیدو ترق ، ترق آواز به پورته کیدلو. انا او پلار د بکسوشاته متوجه شول وئې لیدل چې احمد د بکسوشاته ځان کلوله کړئ او پټ کړئ دئ .

بي بي جان وویل:″ احمد ! هلته څه کوې؟ ″

احمد ځواب ورکړ :″ له جمیلې څخه پټ شوی یم .″





بي بي جانۍ پوښتنه وکړه : ″ تاواوریدل چې ما څه وویل ؟″

احمد سر وخوزاو وئې ویل :″هو ، بي بي جانۍ ″

پلاریې ورته اشاره وکړه چې راشي او دده په غیږ کې کښیني . میرزا وویل : ″ احمد ، ته پوهیږې چې پلار دې یوڅه موده عصبانی و .″

احمد وویل :″ زه هم ستا په څیر ناراحته وم .″





میرزا پوښتنه وکړه : ″ ته هم ؟ ″

احمد خپل سر وخوځولو وئې ویل :″هو، پلار جانه ″

میرزا پوښتنه وکړه :″ ښه ، ته پوهیږې چې ما څه احساسول .

احمد سروخوځولو وئې ویل :″ نه خیر″

میرزا وویل :″ کله مې چې په تاسو او ستاسو په مور چیغې وهلې ، هغه په دې معنا نه وو چې تاسو بد یاستئ . ددې علت داوو چې ما ښه احساس نه درلود .

احمد وویل :″ پلارجانه زه هم همدا ډول وم . ″

میرزا وویل:″ فکر کوم چې مونږ یو بل درک کړل ، احمد ! تا او ما

احمد د خپل پلار په غیږ کې د راحت او هوساینی احساس کولو . میرزا وویل :″ پس له دې مونږ باید عصبانی نه شو . نه ته او نه زه ″

احمد وویل :″ پلاره ته راباندې ګران یې ″

جمیله رامنده کړه او ډیره پریشانه ښکاریدله . ″اوه احمد ، ماته په ټولو ځایو کې و لټولې ″ جمیله ودریدله کله ئې چې احمد د پلار په غیږ کې ولید ټکان یې وخوړ .



پلار ئې جمیله هم په غېږ کې ونیوله . جمیله د پلار غېږ ته ولاړه . پلار، احمد او جمیلې درې واړو یو بل په غېږ کې ونیول .

جمیلې وویل:" پلاره ! ما غوښتل چې احمد ولمبوم . موررراته ویلې و چې هغه ووینځم احمد مهرباني وکړه راشه!"

احمد نه پوهیده چې ولې ئې مخکې د خور په خوله ونکړل اوله هغې سره ئې لج کولو هغه له ځان میځلو څخه ډیر خوند اخیستلو ، تل به ئې د ځان و ینځلو وخت کې شوخې کوله چې په دې توګه به جمیله هم لمده شوه .

.



میرزا وغوښتل چې د خپلو کوچنیانولپاره یو تفریحی کار وکړي . د هغه په یاد شول هغه وخت چې دی ماشوم وهغه د لرگی یوه نانځکه درلوده . کله به ئې چې د هغې تارکش کړ، نانځکی به نڅا کوله . میرزا د خپل کار د لوازمو په مرسته د لرگی یو ټوټه راواخیسته او غوڅه ئې کړه . بیا ئې هغې ته سر، تن او متې جوړې کړې . د نانځکی د یوې پښی لپاره لرگی کم شوی و میرزا په شوخی سره وویل :" آه ، اوس یوه داسی نانځکه جوړوم چې په یوه پښه نڅیږی.

